ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۱/۱۰/۳۱

# د افغانستان خطرناکه ګاونډي
## او د طالبانو په رسميت نه پيژندلي واکمني
### دويمه او ورستی برخه




### ۶. د سعودي عربستان، افغانستان او طالبانو اړيکو ته يوه لنډه کتنه

پر افغانستان باندې د پخوانۍ شوروي اتحاد د يرغل په مهال سعودي عربستان د کمونېزم ضد مجاهدين له هر اړخېزه پلوه تمويل کړل. د دې سربېره افراطي اسلامي سني ډلې لکه د القاعدې ترهګرې ډلې مشر بن لادن، هغه ځوک چې د امريکايانو لخوا په پاکستان کې ووژل شو، د سعودي عربستان او خليج هيوادونو څخه سياسي، مذهبي ايډيالوجيکي او مالي مرستې ترلاسه کولې.

د ۱۹۷۹ يم کال د لسبزې په پيل کې سعوديانو او د پاکستاني پوځي اشتبليشمنټ جنرالانو او پنجابي ستراتيجستانو د خپلو سياسي موخو لپاره د پښتنو په بنسټپانه کولو او سختدريځه کولو باندې کار پيل کړو. هممهاله په ايران کې د اسلامي انقلاب بهير روان و. دوی په پښتونخوا کې خلکو ته اسلامي قوانين تشريح کول، کوم چې د سعودي پاچا سلاکارانو لخوا ليکلي شوي و. د متحده ايالاتو په مرسته او همکارۍ سعودي عربستان په افغانستان کې د شوروي يرغلګرو پر وړاندې د پاکستان په همکارۍ د افغان جهاد ملاتړ کاوه. د همدې همکاريو په پايله کې د القاعدې سازمان وزيږيد. د رياض او اسلام اباد استخباراتي مامورينو په پښتونخوا کې د افغان کډوالو په پنغالو کې سلګونه دېني مدرسې جوړې او تمويل کړې. په پيل کې دا مدرسې د مجاهدينو د جلب جذب مرکزونو لپاره کاريدلې، چې بيا ورسته د طالبانو غورځنګ بنسټ اېښودونکی غړي د پاکستان د اې ايس اې په مرسته له همدې مدرسو څخه راپورته شول.

په ۱۹۹۶ کال کې له افغانستانه د شوروي اتحاد پوځونه ووتل، طالبانو د کورنۍ جګړې ورسته واک ترلاسه کړ. هغمهال د دوی اسلامي امارت يوازې د سعودي عربستان، متحده امارات او پاکستان لخوا په رسميت وپيژندل شو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په ۱۹۹۸ کال کې کله چې طالبانو سعودي عربستان ته د القاعدې مشر ورسپارل رد کړل. د سعودیانو او طالبانو اړیکې سړې شوې. اسامه بن لادن له اي اېس اي سره ډېرې نږدې اړیکې درلودې. د بن لادن تر وژل کیدو پوره اته کاله هغه د اي اېس اي تر څارنې لاندې په ابیټ باد کې ژوند کاوه. القاعدې او طالبان لا تر اوسه ډېرې نږدې اړیکې لري او دوی به دغه اړیکې پرې هم نه کړي. په ۲۰۱۶ کال کې د القاعدې بل مشر ایمن الضواهري له طالبانو سره بیعت کړي دی. د القاعدې ترهګرې شبکې تبلیغاتي څانګې د طالبانو ایډیالوجیکې بریا له کبله دوی ته په ښکاره مبارکي ویلې ده.
په ۲۰۰۱ کال کې په نیویارک کې د یوولسمي سپټمبر ترهګریزو بریدونو او پر افغانستان د امریکایي یرغل ورسته سعودي او اماراتو په افغانستان کې د متحده ایالاتو لخوا د نوبو حکومتي بنستونو څخه خپل ملاتړ هم اعلان کړو. که څه هم له خیلج هیوادونو څخه شخصي مرستې تر دوه زره شلم کاله پورې طالبانو ته دوام درلودې. وسمهال طالبانو د سعودي ولیعد محمد بن سلمان د منځلارې اسلام په مفهوم او کانسپټ کې کوم، چې د هغه لخوا تبلیغ کیږي، مناسب خلک نه بلل کیږي. په تیوریکي ډول د طالبانو سختدریځه غورځنګ د ریاض لپاره د یوې وسیلې په توګه په تهران کې د شیعه رژیم په وړاندې هم کاریدلی شي. خو د طالبانو سره دغه ډول اتحاد ناشونې بریښي. دا اتحاد د عربستان او عربي اماراتو ترمنځ د قطر پر وړاندې د اقتصادي بندیزونو او مالوماتي جګړه له کبله په تضاد کې واقع کیږي. ځکه ریاض او ابوظبي د قطر کوشنی دولت په دوحه کې طالبانو ته د اړیکو یو دفتر خلاصولو له امله د ترهګرۍ په ملاتړ تورن کړي دی. وسمهال د دوی ترمنځ د امریکا متحده ایالات په منځګړتوب خبرې اترې رواني دي. له بلې خوا د طالبانو او د ایران شیعه رژیم ترمنځ اړیکې بیا د ښه کیدو په لور رواني دي.
په حقیقت کې سعودي عرب هیڅکله له طالبانو سره خپلې اړیکې په بشپړه توګه نه دي پرې کړي. شتمن سعودي په افغانستان کې طالب جنګیالي، د بنسټپالني جوماتونه او مدرسي تمویلو ته دوام ورکړي دی. ریاض طالبانو ته اجازه ورکړې، څو په سعودي عربستان کې مالي مرستې راټولې کړي. په افغانستان کې د سعودي موخه د ایران د اغیزې مخنیوي یا کمول دي. په هر صورت سعودي وسمهال عربستان د طالبانو د واکمنی ته په محتاطانه ډول غبرګون ښودلي دی. د سختدریځو سره یووالی د ولیعهد محمد بن سلمان د پالیسیو سره سمون نه خوري، ځکه هغه وسمهال ځان د اصلاح غوښتونکو او منځلارې اسلامپالني استازی بولي. په عربستان کې میرمنو ته د موټر چلولو اجازه ورکړل شوي ده. هلته خلک سینماګانو ته ازاد تللي شي. د لویدیځ پاپ موزیک کنسرټونه ترسره کیږي، دي ته ورته ډیر نور عامه اصلاحات د سعودي په ټولنه کې پلي کیږي. داسي انګیرل کیږي، چې سعودي عربستان د طالبانو سخت، بې ځایه، ورسته پاتي او محافظه کاري بنسټپالني پالیسي ردوي. داسې ښکاري چې سعودي عربستان او طالبان یو بل ته د القاعدې سره د اړیکو ساتلو له امله نه دې سره نږدې شوي. دوی د طالبانو واکمنې په رسمیت پیژندلو په اړه اصلا فکر هم نه کوي.
سعودي یو له هغو دریو هیوادونو څخه و، چې د طالبانو رژیم یې په رسمیت پیژندلي و. وسمهال که څه هم طالبان ویلي، چې دوی نور هغه شان د ۲۵ کلونو پخواني طالبان نه دي. دوی د ښې اداري رامنځته کولو لپاره بدل شوي دي، نور د نوویمو لسیزې سني سختدریځه خلک نه دي، چې لاسونه پرې کوي او نجونې ښوونځی ته نه پریږدي، د ښځو او لږکیو حقونو ته درناوي نه لري. د دې سربیره د اسلام اصلي ټاټوبي سعودي عربستان او طالبان له یو بل څخه پردي شوي دي. سعودي عرب د افغان جهاد له تمویلونکی څخه د طالبانو سره تر سیالی پورې وتللي دی. د اسلام سپیڅلي دین زانګو سعودي عربستان اوس د هغې حالته راوتلی، کوم، چې د سعودي شاهي کورنې د یو سپیڅلي اسلام خپرولو لپاره کمپاینونه او تبلیغات کول.

## ۷. د طالبانو نوي واکمنۍ سره د قطرعربي هیواد اړیکې

د قطر عربي هیواد د افغانستان خونړۍ جګړییز کړکیچ د حللارې لټولو لپاره راډانګي دي. په دغه کوشنی صحرایي عربي هیواد کې د امریکا متحده ایالاتو پوځي اډې هم شتون لري. قطر د افغانستان په کړکیچ کې ځان پر نړیوال کچ منځګړتوب ته وړاندي کړي دی.
له ۲۰۱۳ کال راهیسې طالبان په پلازمېنه دوحه کې د اړیکو یو رسمي دفتر لري، هلته نړیوال منځګړي هیوادونه او د افغانستان په جګړه کې ښکیل هیوادونه یو بل ته لاسونه سره ورکوي، بحثونه کوي او د امریکا او طالبانو ترمنځ د دوحې برخلیک ټاکونکی هوکړه لیک لاسلیک شوي دی. د قطر هیواد له د دې اسانتیاوو برابرولو سربیره له طالبانو څخه سیاسي ملاتړ هم کوي. که څه هم په حقیقت کې سعودي عربستان تر ټولو عربي هیوادونو په سیمه کې په خپله برترۍ او لاسبرۍ باندې ټینګار لري. دوی د طالبانو سره ډیر دینې، مذهبي ګډ مشترکات او شرعي قوانین هم لري. وسمهال د سعودي مشران په سعودي عربستان کې د شریعت قانون یو ډیر دقیق او محافظه کاره تفسیر پلي کوي. خو دا مهال قطر یې مخه نیولې. د قطر چارواکي په دې اند دي، چې په سیمه کې بنسټیز بدلونه راروان دي. قطریان غواړي، په دغه بدلونونو کې د یو بې پرې منځګړي په توګه فعاله برخه ولري. د یو بریالي منځګړي رول لوبولو سره دغه کوشنی عربي خلیجي هیواد غواړي، په سیمه کې خپل پایښت، سیاسي شتون او خپل اغیز د سعودي په پرتله لا پیاوړي جوت وکړي. د قطر یوه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولـئ

جګپوړي ډیپلومات طالبانو ته د یوه ښه اسلامي نظام جوړولو په موخه د قطر دولتي نظام سیستم د یوې نمونې په توګه هم وړاندې کړي دی.

د طالبانو ایډیالوجیکه بریا د عربي اسلامي نړۍ لپاره یو دوه اړخیزه تېره توره په توګه ښکاري. په افغانستان کې د طالبانو واکمني په سیمه کې پر اسلامي نړۍ باندې خپل اغیز لري. په ځانګړي توګه پر مذهبي، توکمي او ایډیالوجکي ټوپیرونو باندې د پاموړ اغیز لري. له دې امله په افغانستان کې ورستي پرمختګونه د ټولو ګاونډیو هیوادونو او اسلامي نړۍ لپاره د یوې دوه مخیزې تورې مانا لري. تر ټولو لومړی ګواښ پاکستان ته متوجې دی، که څه هم طالبان په پاکستان کې تمویل او هڅولي شوي دي، خو د پښتنو په زړه کې یوه نا رسمي غیر فطري، استعماري کرښه شتون لري، د دې کرښې دواړو غاړو ته پښتانه پراته دي، له همدې سیمو څخه طالبانو خپل جنګیالي جلب جذب کړي دي. د دې ګواښ شته، چې طالبان د سیمو کنټرول په لاس کې واخلي او د افغانستان تاریخي خاوري بیرته له افغانستان سره یو ځای کړي.

## ۸ . د افغانستان او طالبانو په اړه د ترکیې دولت پلانونه او لیوالتیاوې

ترکیه او افغانستان په مذهبي توګه سره ورونه هیوادونه بلل کیږي. ایا په ریښتیني مانا سره دوی په بهرنې سیاست کې هم سره ورونه دي. پر کابل باندې د طالبانو واکمنیدو څخه پېنځه ورځې ورسته د ترکیې حکومت او ولسمشر اردوغان خپل دریځ غوره او څرګند کړو. په داسې حال کې چې د طالبانو واکمنیدو په اړه د ترکیې او نړیوالې رسنۍ په خورا شدت سره د خبرونو په خپرونو باندې بوختې وې. د ترکیې حکومت هڅه کوله انتظار وباسي، څو د طالبانو په واکمنې کې د ځواک بدلون نښې نښانې رابرسیره شي. څکه ترکیه په یوه بې ثباته وضعیت کې ولاړه وه. ترکیه د خپلو ملي ګټو لیوالتیا لپاره په انتظار کې وه. له یوې خوا د ترکیې سرتیرې د ایساف ماموریت کې برخه درلودله، له بلې خوا دوی غوښتل د طالبانو سره خپلې ډیپلوماتیکي لارې هم خلاصې وساتي. تورکانو نه غوښتل، څو د دوی سرتېرو ته د وتونکی اروپایي او امریکایي سرتیرو په څیر وکتل شي. د دې سربیره د ترکیې بهرنیو چارو وزارت په ډاډ سره اعلان وکړ، چې خپل سفارت یې د کابل هوایي ډګر ته لیږدولي دی، خو د تړلو هیڅ کوم پلان نه لري. که څه هم طالبانو د ترکیې پلانونو سره مخالفت ښودلي و، خو ترکیه د کابل هوایي ډګر امنیت ساتنه کې مهم رول لوبول غواړي. ترکیې غواړي په کابل کې د واک تنبې څخه ګټه پورته کړي. که دغه پلان عملي شي، ترکیه له یوې خوا خپلې کړکیچنې اړیکې له امریکا سره رغولي شي او له بلې خوا ترکیې دا هم خپلو ناټو ملاتړو ملګرو ته ښوولي شي، چې د ناټو څخه بهر د ترکیې مخ په ډیریدونکي اغېز او خپلواکي د ناټو غړو هیوادونو په ګټه تمامیداي شي.

ترکیې د کلونو راهیسې په مکرر ډول ویلي، چې د خپلو ګډو اسلامي ریښو او اړیکو له امله د نورو لویدیځوالو لوبغاړو او ناټو هیوادونو په پرتله په افغانستان کې د ناټو ټلوالې ته ښې ګټې راوړي دي. د ترکیې د فاع وزیر د کابل هوایي ډګر د پوځي عملیاتو همغږۍ کولو کې ځبنت ډیر بوخت هم و، هغه وویل؛ موږ به تر هغه وخته دلته پاتې شو، ترڅو افغان وړونه موږ غواړي. د ستراتیجکي پلوه تورکانو غوښتل، د افغانستان په مهمه دروازه کې خپله پښه ایښودلي وساتي.

طالبانو په لومړۍ سر کې د ترکیې په هکله یو سوړ غبرګون ښود، غوښتنه یې وکړه، چې ترکیې سرتیرې باید د سپتمبر تر پایه ویستل شي. له دې دا جوته کیږي، چې د ترکیې پلان په ناکامیدو دی. خو داسې ښکاري له کابل سره د ګټور اړیکو په ساتلو کې د انقرې ستره لیوالتیا لا شتون لري. ترکیه د پاکستان سره پیاووې اړیکې لري، غواړي خپلې اړیکې هم له دې لارې پیاوړي کړي. د ترکیې اصلي اندېښنه او ستونزه له افغانستان څخه د ترکیې په لور افغان ګډوالو احتمالي بهیر خوځښت هم دی. په ترکیه کې څلور میلیونه سوریایي کډوال مېشت دي. د ترکیې په ټاکنو کې اپوزیسیون سیاستوالو د کډوالو ستونزه د خپلو ټاکنیزو کمپاینونو لپاره یوه مناسبه موضوع ګرځولې. تورکي اپوزیسیون سي ایچ پي په خپل ټاکنیز کمپاین کې د سوري او افغان کډوالو پر وړاندې دا شعار کاروي.,, سرحد زموږ ویاړ دی,,. ډېرۍ تورکي سیاستوال په عامه توګه وایي، چې ترکیه د اروپایانو لپاره د کډوالوپېنغاړۍ نه دی. د اردوغان حکومت د ایران او ترکیې پر پوله لکه د سوریې او ترکیې پر پوله یو بل اوږد او جګ دیوال جوړولو کار پیل کړي دی. د دې دیوال سربیره کډوال بیا هم ترکیې ته ورننوځي. ترکیې ته د افغان کډوالو ورتګ کومه نوې خبره نه ده. ټول د طالبانو د واکمنیدو سره هڅېدلي نه دي. افغانان ترکیه د ترانزیټ هیواد په توګه کاروي، د سوریایي کډوالو ورسته افغانان په ترکیه کې د کډوالو دویمه ستره لویه ډله ده. که څه هم رسمي شمېرې شتونه نه لري، د اټکلونو له مخې تر ۵۰۰۰۰۰ پورې افغانان په ترکیه کې ناراجسټر شوي شتون لري. کله چې د طالبانو واکمنی د بهرنیو چارو سرپرست وزیر په انقره کې د ترکیې له بهرنیو چارو وزیر سره وکتل، د ترکیې بهرنیو چارو وزیر خبریالاتو ته وویل، د افغان پلاوې سره د ورستیو پرمختګونو، ښځو ته په دولتي ادارو کې ونډې ورکولو، د نورو بشري حقونو تر څنګ په ترکیه کې د مېشتو افغان کډوالو د بیرته ستنیدولو موضوع مطرح کړي ده.

د انقرې افغانستان پلان هم درې برخې لري. پوځي، سیاسي او اقتصادي. د دې پلانونو د عملي کولو لپاره ترکیه له پاکستان او قطر سره نوی اتحاد رامنځته کړي دی. ترکیې د ناټو هیوادونو اتحاد په پام کې نیولو سره، انقرې په دې ورستیو کلونو کې د قطر سره په پوځي برخه کې په پراخه کچه خپلې اړیکې پراخه کړي دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

دوی اوس یو کوښنی بل اتحاد رامنځته کړی دی. که د ترکيي پلانونونه د پلان له مخي پرمخ ولاړ شي، د دوحې، اسلام اباد او انقرې محور به د افغانستان په پالیسۍ جوړولو کې بل ډول سرعت راولي. پاکستان له طالبانو سره پټي ژورې اړیکي لري، ترکيه له قطر سره په پټو خبرو اترو او اړیکو بوخته ده. دا هغه څه دي، چي ولسمشر اردوغان يي غوښتونکی دی.

۹ . د طالبانو واکمني ته د ایران شیعه ملایان او اخوندان په څه دول ګوري.

د ایراني رژیم او طالبانو ترمنځ اړيکي د ميني او نفرتونو څخه ډکي اړيکي دي، په بله وينا دوی په خپلو کي د بی باورۍ، د ميني او نفرته اړيکي لري. دواړه د امریکا په اړه ګډ دریځ لري، دواړه امریکا نه خوښوي. په دې مانا چي زما د دښمن دښمن زما دوست دی. خو په ديني او مذهبي مسئايلو کي بيا له يو بل سره سيالي کوي. طالبان د سني سختدریځه اسلام ملاتړي دي، ایران بیا په افغانستان کي د شیعه ګانو لړکيو حقوق او بر لاسي غواړي. همدغه ټکی د طالبانو او ایراني اخوندانو ترمنځ د شخړې یو مهم عنصر ګرځيدلي شي، ځکه طالبان هم مجبوریږي، څو په ایران کي د سني لړکيو د حقونو څخه دفاع وکړي. د طالبانو واکمني د ایران سیمه ییزو ګټو لپاره ستراتجيکي ستر ګواښ دی.

په ۱۹۹۸ کال کي طالبانو په مزارې شریف کي یوولس ایرانی وګړي ونیول او ووژل. ایران د خپلو اتباعو تر وژل کيدلو ورسته اوويا زره کسيزه پوځ د افغانستان سويلي پولي ته د بريد او د جګړې په نيت ځای پر ځای کړو. د جيو ستراتيجکي پلوه طالبان به سعودي عربستان ته د اغيز لاره هواره او اسانه کړي. په افغانستان کي يو شعيه او ایران ضد حکومت کولي شي د ایران لپاره جدي امنيتي ننګونی رامنځته کړي. ایران د افغان نسکور شوي حکومت سره د ښو اړيکو په درلودلو سره سره بيا هم د طالبانو سره په پټي او ښکاره اړيکي درلودلي دي. دوی طالبانو ته مالي مرستي او وسلې برابرولي او طالبان د ایران په مشهد ښار کي يو دفتر لري. د طالبانو پخوانی مشر ملا منصور په پټه ایران ته تللي و، کله چي د پاکستان اي ایس اي له دي پټ سفره خبریږي، امریکا ته د ټګ او بيرته ټګ په اړه مالومات ورکوي، نوموړي د امریکایي پاکستاني د ډورن الوتکو په برید کي وژل کيږي. په افغانستان کي د سیال متحده ایالاتو ماتي په هيڅ ډول د ایراني مشرانو او په پلازمینه تهران کي د خوښيو او خوشالیو لامل نه شو. ایرانیانو د امریکایي سرتېرو د وتلو څخه څو میاشتي مخکي د طالبانو سره ډيپلوماتيکي اړيکي ټينګي کړي وی. که څه هم ایراني شیعه اخوندان په طالبانو باندي هيڅ اعتبار او باور نه لري.

په ۲۰۰۱ کال کي کله چي د امريکا یرغل پيل شو، ایراني رژیم د طالبانو رژیم په نسکوریدو کي د امریکایانو د برید پر مهال د دوی سره پوځي او استخباراتي مرستي او ملاتړ وکړو او د شمالي ټلوالي سره خپلې اړیکي ټینګي کړي. ایران په دوديزه توګه د شمالي ټلوالي سره متحد هیواد پاتي شوي دی. لنډه دا چي ایرانیانو د امریکایانو سره مستقیمي خبرې وکړې، چي دوی په ډيرو مسئايلو او برخو کي د امریکایانو ملاتړ کوي. ایراني رژیم تر دې حده د طالبانو په نسکورولو باندي خوښ و. د ایران اخوندانو خوښي او خوشالي ترهغي پوري دوام وکړ، کله چي د امریکي ولسمشر جورج ډبليو بوش ایران د شررات محور یوه برخه وبللو. ایراني اخوندان نه غواړي يو ّځلي بيا خپلي تیروتني تکرار کړي، نن دوی په طالبانو کي د امريکايي ضد ورور روحيه ويني. دوی غواړي طالبان په دې پوهه کړي، چي په ريښتيني مانا سره د ملي وحدت یا یو ټولشموله حکومت رامنځته کړي، څو د افغانستان ټول لړکي قومونه په کي شتون ولري.

په افغانستان کي نه یوازې ثبات او د کډوالي مسئلي د ایران لپاره مهمي مسئلي دي، بلکي ایران په سیمه کي د شیعه ګانو پیاوړتیا، د داعش پر وړاندې مبارزه او اقتصادی اړیکي پالل غواړي. ایران ته د هلمند او هریرود سندونو اوبه وربهيدل غواړي، همدارنګه ایران په خپلو ۹۲۱ کیلومتره سرحدي سیمو کي له افغانستانه د ورتلونکی مخدره توکو قاچاق او د جنايي جرمونو سره لاس او ګریوان دی.

ایران تر اوسه د افغانستان لوی اقتصادي ملګری هم پاتي شوي دی. که طالبان په يوه ټولشموله باثباته حکومت جوړولو باندي بريالي شي، په هغه کي افغان شیعه لړکي هم برخه ولري. دا به د طالبانو او ایران ترمنځ د ښو اړيکو جوړولو يو لامل وګرځي. ایران له بي ثباتی سره مخ دی، له همدې امله ایران د خپل امنیت او ثبات لپاره د ماسکو فارمټ غونډې په څېر یوه بله غونډه د افغانستان د شپږو ګاونډيو هيوادونو څخه تهران کي را بللي وه.

۱۰ . په افغانستان کي د هند زوړ تاريخي رول او اغيز

هندوستان د افغانستان په بیا رغونه کي دوه نيم میلیارده یورو پاګونه کړي. دا مرستي د زيربنايي او پراختیایي پروژو په تمویل کي کاريدلي دي. ښوونځي، سړکونه او د اوبو سترو بندونو سربيره د بېلګي په ډول د ولسي جرګي ودانی جوړول او داسي نورې لويي وړې پروژو باندي لګول شوي دي. هندوستان په افغانستان کي لاری جوړولي، خو پاکستان بیا په بمونو الوځولي. د طالبانو واکمنيدو سره په سیمه کي د چین او پاکستان اغيز مخ په ډیریدو دی. د چين په پرتله هند له طالبانو سره ډير ورسته اړيکي نيولي دي. د هند د بهرنيو چارو وزير سبرامنيم جي شنکر ویلي دي، چي د افغان ولس سره به اړيکي همداسي دوام ولري.

د طالبانو واکمنېدو ورسته هند د خپل سفارت کاروکونکي له کابله ویستل او د وسمهال موجوده شرايط په پام کي نیولو سره هند د خپل سفارت د تړلو پريکړه کړي. هندوستان خپل زوړ ملګری افغانستان له لاسه ورکړو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو رژیم د پرځیدو راهیسې هندوستتان د افغان حکومت یو دوست هیواد و، هند د افغانستان په بیا رغونې چارو کې مهم مرسته کوونکی هیواد و. هند د سوداګرې په برخه کې د افغانستان یو خورا مهم ملګری هیواد و، هند د کرهنې، انرجي، ښوونې روزنې او د روغتیايي چارو په برخه کې ستر مرسته کوونکي هیواد و. افغانانو تل د پاکستان په پرتله د هند مرستو او همکاریو ته پوره ارزښت ورکړې دی. د طالبانو ډله کې داسې ځینې عناصر شتون لري، چې د پاکستان په اشاره د هند دوست هیواد سره دښمني پالل غواړي. **د هند او پاکستان نیابتي جګړې ته اور ورلاندې کوي**. لکه په کابل کې د هند په سفارت څو ځلې ترهګریزه بریدونه تر سره شول. **د هند قونسلګرۍ تر بریدونو لاندې راغلې**. د هند **په** سترګو کې طالبان په افغانستان کې د پاکستان اوږد شوئ لاس دی. طالبانو یوازې په دې ورستیو کې د لویدیځوالو ځواکونو وتلو ورسته د هند چاروکو سره اړیکې ونیولې. هند د افغان حکومت کړندي سقوط او په کابل کې د طالبانو واکمنې په ډیره اندیښنې سره څارې.
هند د طالبانو په هغه ژمنو لږ باور لرلې شي، کوم چې طالبانو ویلي دي، چې دوی به په خپله خاوره کې ترهګرې ډلې **نور** ونه زغمي **یا و** نه ساتې. هند دا تمه لرې، چې افغانستان کې په زیاتیدونکې ډول ترهګرو ته خوندې پټنځایونه برابر شې، لکه وسله والو ډلې لشکر طیبه او جیش محمد د پخوا په څېر هندې موخې تر جدي بریدونو لاندې ونیسي.
د افغانستان او هندوستان ترمنځ ډیرې تاریخي لرغونې اړیکې شتون لري. کوشنې کابل د هند په پلازمینه ډیلي کې د یوې سیمې نوم دی. که څوک غواړي د افغانانو او هندیانو ترمنځ اړیکې وپلټې، نو هغه دې د نوی ډیلي سویلي ښارګوټي لاجپټ نګر ته سفر وکړي، چیرې چې د هندې ژبې سربیره دوې نورې ژبې پښتو او درې اوریدل **کیږي**. یوازې په دغه سیمه کې تر ۳۰۰۰۰ ډیرې افغانی کورنې استوګنې دي.
لاجپټ نګر **د** افغان کـالونی په نامه یادیږي. دلته د افغانانو رستورانتونه او سوپر مارکیټونه شتون لري. د هند او افغانستان ترمنځ ډیرې اوږدې ګډې تاریخي اړیکې شتون لري.
په ۱۸۹۳ کال کې بنګالې شاعر او ادبي وتلې څېره د نوبل جایزې ګټونکی رابندر ناټ **ټ**اګور خپله نوموتې کیسه (کابلی والا) لیکلې، هغه دا کیسه په کلکته کې د یوه افغان په اړه لیکلي، چې هغه له خپل کور کابل څخه ډیر لرې ژوند کاوه. له دې وراخوا حتی د پیرو پیرو دمخه د هند نیمې وچې تاریخ د افغان واکمنانو لخوا اغېزمن شوی دی. د بېلګې په ډول په ډیلي کې د لودي باغونه دي، چې د لودیانو، غلجیانو، غزنویانو او دورانیانو سلسلې پورې دا تاریخ رسیږي. دا ډول تاریخي ګډ تاریخ او ورته والي د نور شیانو په منځ کې تل د دې حقیقت لامل ګرځیدلي، چې د افغانستان او هند ترمنځ په سیاسي او ډیپلوماتیکه کچه ښې اړیکې وساتل شي. دغه دواړه تاریخي هیوادونه یو ګډ دښمن لري. هغه پاکستان دی، چې د دې دواړو هیوادونو په خاوره کې په جعلې او تصادفي توګه د انګریزي امپراتورۍ لخوا رامنځته شوی دی. پاکستان د هند تر ټولو سر سخت سیال دی. هند اوس مجبور دی، له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو د وتلو له پایلو سره ژوند وکړي.

## ۱۱. په افغانستان کې د پاکستان بښرمي پوځي او سیاسي ستراتیجکه لاسوهنې

د ۱۹۷۹ کال په افغانستان کې د شوروي اتحاد له یرغل راهیسې اي ایس اي پرکنده رول لوبوي. په افغانستان کې د افغان مجاهدینو هیڅ یوې ډلې د پاکستاني پوځیانو ستراتیجکي ژورې موخې او تمې پوره نشوې کړای، تر هغه چې طالبان صحنې ته راوستل شول. د پاکستان پوځ تل په دې هڅه کې و، څو طالبان تر خپل کنټرول لاندې راولي. پاکستان د کلونو کلونو راهیسې د خپلې ستراتیجکي ژورې پالیسیو په چوکاټ کې د نړیوالي ځواکونو، د افغان حکومت او د طالبانو غورځنګ سره د منافقت له امله ډبل رول لوبولي دی. پاکستاني استخباراتي اداري اي ایس اي د خپلې سترایجکي پالیسي کې د طالبانو جوړښت ته هم وده ورکړې. پاکستان تل د طالبانو په ملاتړ او تمویلولو کې لوی لاس درلودلي دی. پاکستان تل طالبانو ته د خپلې بهرنې پالیسی کې د یوې سیاسي وسیلې په توګه کتلي او کارولي دي. پاکستان تل ځینو پښتنو ته د خپلو سیاسي شومو موخو ترلاسه کولو لپاره وسلې او پیسی ورکړي دي.
له افغانستان سره د هند اړیکې تل له پاکستان سره په سیالی باندې ولاړې دي. هند هڅه کوي، څو په افغانستان کې د پاکستان سیاسي اغیز مخه ونیسي او نه غواړي، چې ټول افغانستان د اسلام اباد د واک او اغېز سیمه وګرځي. د دواړه مشر او کشر ورونه او دښمن هیوادونه په افغانستان کې متضادي غوښتنې او پالیسی لري. هند هیڅکله د پاکستان په څېر په افغانستان کې استعماري اغیز نه دی موندلي، خو هند تل په افغانستان کې د پانګونې، د بیا رغونې چارو، د اوبو بندونه جوړولو، ساختماني چارو ترسره کولو له امله په کابل کې افغان دولتونو ورته به درنه سترګه کتل کیږي. په ۲۰۲۱ کال کې د طالبانو د پرځیدو ورسته هند له افغانستان سره دوستانه اړیکې لري. هند په جګړه ځپلې افغانستان کې پرمختیایي چارو ته ډیر پام کړی دي. پاکستان تل له دې ویریدلي دی کله چې له یوې خوا هند او له بلې خوا افغانستان ترمنځ ایسار پاتې شوي دی. کله چې د کابل او ډیلي واکمنانو ښې اړیکې درلودلي دي، پاکستان ته بیا سخته نارامه تبه ورغلي ده.
پاکستان په دوو استعماري کرښو کې رامنځته شوي هیواد دی. د پاکستان د بهرنې سیاست لومړنې ستن د هند سره د کشمیر شخړه او په کشمیر کې دلاین اف کنټرول کرښه ده. د پاکستاني د بهرني سیاست دوېمه مهمه ستن د پښتنو د ملتپالنې احساسات ځپل او لمنځه وړل دي. دغې دویمي ستنې پاکستان پر سیمه ییز او نړیواله کچ له


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سترو کړکيچونو او ننګونو سره مخامخ کړي هم دی. له همدې امله پاکستان تل د نړۍ په ډيپلوماتيک ډګر کې يوازې پاتې شوي دی. په همدې دويمه موخه باندې دلته لږ تمرکز کيږي. د اوويايمو کلونو راهيسې پاکستان تل هڅه کړي، څو په کابل کې يو پاکستاني پلوه تحت الحمايه يا د پاکستان تر اغېز لاندې د پښتنو يو کمزوزې ګوډاګي حکومت رامنځته کړي او ملاتړ ترينه وکړي. د اسلام اباد او راولپنډې واکداران غواړي د دې ستراتيجکي ژورې پاليسي له لارې دوې نورې موخې ترلاسه کړي.

لومړی موخه د ډيورنډ په رسميت نه پيژندل شوي انګرېزي کرښه په افغان ګوډاګي حکومت باندې په رسميت ومني. دويمه موخه د ډيورنډ کرښې په دواړه غاړو کې د پښتنو ملتپالني احساسات چې خپلې ورستي کچې ته رسيدلي وځپي يا له منځه يوسي. پنجابي جنرالان غواړي د پښتنو د ملتپاني سياسي ځواک په پلازمينه کابل کې ترور يا ووژني.

په ۱۸۹۳کال کې د ډيورنډ استعماري غير رسمي کرښه د برتانوي امپراتورۍ لخوا پر افغانانو باندې د سلو کلونو لپاره تحميل شوي. د دغې استعماري کرښې د اعتباري موده د ۱۹۹۳ کال کې باطله او ختمه شوي ده. په ۱۹۴۹ کال کې د افغانستان ولسي جرګې په غوڅ اکثريت پرېکړه کړي، چې د ډيورنډ کرښه نوره تړوله شوي ده. منځني پښتونخوا يا ازاده قبايلي سيمې د پاکستان په اساسي قانون کې ځانګړې ځای يا حالت لري. د اسلام اباد واکمنانو د منځني پښتونخوا نيمه خپلواکي سيمې سره د يوې محاصره او منضوي شوي سيمې په توګه چلند کيږي. پاکستاني پوځيان د لومړي ځل لپاره د ترهګرۍ ضد جګړې تر نامه لاندې يو اتيا زره کسيزه پوځ آزادې قبايلي سيمې ته وردننه کړي دی. دې برغلګر پوځ ډېر پښتانه ووژل، تږي تم کړل، کورونه او کلي وران کړل، چې په پايله کې د دې ناروا ظالمونو په وړاندې د پښتون ژغورني غورځنګ خپل سر راپورته کړي دی.

لر او بر پښتانه افغانان د انګريزي امپراتورۍ لخوا په يوه ډېره ناروا، ظالمانه او په خپلسر د يوې هوايي کرښې لخوا بېل کړل شوي دي. اوس همدغه لر او بر پښتانه يې په وړاندې مبارزه کوي. دغه اټکلي ۲۴۵۰ کيلومتره استعماري کرښه انګرېزانو په کاغذ کې په دقيقه توګه نه ده کښلي. پښتنو کلونه کلونه د دې هوايي کرښې سربيره پر کرښه تګ راتګ کړي دی، خو اوس پنجابي پوځي اشتبليشمنټ د ترهګرۍ ضد جګړې تر نامه لاندې د طالبانو د مخنوي لپاره په خپلسر د انګرېزانو په پل د ډيورنډ پر فرضي کرښه باندې د افغانستان په خاوره کې ازغن تار لګولي دی.

پاکستاني پوځي اشتبليشمنټ او د پوځ مشرتابه له هيڅ بلې سناريو څخه دومره ويره نه لري، لکه د هند او افغنستان سره په دوو جبهو کې د جګړې سناريو څخه ويره لري. پاکستان د خپلو کټو لپاره له افغانستان سره د يو ډول اسلامي بلاک رامنځته کيدو شونتيا هم ويني، څو د سيمه ييزو ځواکونو لکه هند، چين، ايران او روسيې سره ښه سيالي وکړاي شي او په پايله کې ان د لويديځو هيوادونو سره په مساوي توګه مخامخ شي. داسې کړه راپوررونه هم شتون لري، کله چې طالبانو په دوحه کې له امريکايانو سره د روغې جوړې په اړه خبرې اترې کولي، طالبانو په دوحه کې د پاکستان په سفارت کې د پنجابي متخصصينو سره په ځانګړي دفتر کې مشورې کولي. طالبانو د افغانستان د نيولو لپاره يوازې خپله ټګلاره نه ده جوړه کړي، له دوی سره په ستراتېجي پاکستاني پوځ همکاري کړي. د پاکستان ستراتيجکي ژورې پاليسي په دې ولاړه ده، څو په افغانستان کې يو کمزورې پاکستان پلوه تحت الحمايه حکومت کنټرول په لاس کې ولري. د طالبانو واکمنۍ سره اوس پاکستانی پوځي اشتبليشمنټ خپلې موخې ته رسيدلي بريښي. پاکستان غواړي، خپله زړه ستراتيجي پلې کړي او خپلې اقتصادی او سياسي موخې تر لاسه کړي. پاکستاني پوځي اشتبليمنټ غواړي، چې طالبان خپل پام هند ته او په ځانګړي توګه کشمير ته هم وروګرځوي.

پاکستاني طالبان او پاکستاني پوځيان په خپله پوځي جګړه کې هيڅ ډول بنسټيز ايډيالوجيکي تضادونه نه سره جلا کوي. پاکستاني طالبان د پاکستان پوځي مشرتابه ته له دې امله په غوسه دي، ځکه دو يد امريکايانو لپاره د پاکستان په خاوره کې د طالب مشرانو پرضد د بې پيلوټه الوتکو بريدونو ته اجازه ورکړي. همدې پاکستان طالبان په ښو او بدو طالبانو باندې ويشلي دي. د اسلام اباد ملاتړي افغان طالبان ښه طالبانو بولي او پاکستاني طالبان کوم چې د افغان طالبانو سره نږدې اړيکې لري، د بدو طالبانو په نامه نومولي دي او د هندوستان پيداوار يا محصول ګڼي. وسمهال پرته له شکه د افغان طالبانو واکمني د پاکستاني طالبانو مورال خورا پياوړي کړي دی او دوی ته يې نوې هيلې وربښلي دي. ټي ټي پي د خپلې بريا په اړه ډېر ډاډمن شوي دی. ټي ټي پي په دې ورستيو کې د امريکا او ناټو ځواکونو او اډو څخه ډيرې وسلې ترلاسه کړي هم دي، کومې چې د افغان طالبانو لخوا نيولي شوې دي. همدې نويو وسلو او د افغان طالبانو واکمنې په پښتونخوا کې د طالباني شريعت نافذولو اراده لا نوره پياوړي کړی ده. **طالبان به د خپلو ژمنو سره سم په افغانستان کې نورو سختدريځه ترهګرې ډلې لکه داعش او د ختيځ ترکستان اسلامي غورځنګ مهار کړي، خو د ډيورنډ پر کرښه ټي ټي پي نشي مهارولي.**

پاکستان په خپل بهرنی سياست کې او پوځي دفاعي ستراتيجکي ژوره پاليسي کې د هند په وړاندې تل طالبانو ته د يوې الې په توګه کتلي او کارولي دي. له همدې امله په وسلو سمبال کيږي او په لوجيستيکي ډول تمويل کيږي او هلته پنځايونه ورته برابر کيږي. په ورته وخت کې پاکستان د طالبانو بيا واکمنيدلو ته په متضاد ډول هم ګوري. د دوی سياستونه له بهاماتو او شکونو څخه ډک دي، ځکه د افغان طالبانو واکمنيدل په پاکستان کې د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سختدريځي اسلامپالي ډلي پاڅونونو ته تشويقوي يا هڅول کيږي. پنجاب د طالبانو مالي او لوجيستکي ملاتړ د خداى د رضا لپاره نه کوي. پر کابل د طالبانو واکمنيدو ورسته د پاکستان د اي ايس اي مشر کابل ته را تګ کوم تصادفِي سفر نه و. د دي سفر مانا دا وه، چې افغانستان اوس د ستراتيجکي ژورې پاليسۍ له مخې د دوی د سياسي اغيزې سيمه ده. له همدې امله دوی د طالبانو په سر پرسته کابينه کې لاسوهنه وکړه او ورباندې خپله پاکستانی ټاپه ولګوله. په ورته وخت کې د عمران خان د بهرنيو چارو وزير په ډيره سپين سترګي سره د طالبانو په رسميت پيژندلو لپاره پر نړيوال کچ لابيګري کوي، څو د نړيوالو پام پاکستان ته راړواړوي. پاکستان په خپله دا جرات نشي کولي، څو د طالبانو واکمني په رسميت وپيژني.

## ۱۲. د خطرناکو ګاونډيو هيوادونو په وړاندې د طالبانو ستراتيجي او پاليسي

طالبانو د څو لسيزو جګړو ورسته له جګړې ستړي افغان ولس ته د سولي او نظم راوستلو پاليسي وړاندې کړي ده. د طالبانو ستراتيجي پر افغانستان باندې متمرکزه ده. طالبانو ويلي؛ چې غواړي د شريعيت يا اسلامي قانون په هيواد کې واکمن کړي. طالبانو په وار وار په ټينګار کړي او د دوحې په تړون کې له امريکايانو سره ژمنه کړي، چې دوی نه غواړي ترهګرې ډلي لکه القاعده او نورې ترهګرو ډلو ته له افغانستان څخه په نورو هيوادونو کې د فعاليت فرصت برابر کړي، همدارنګه نورو هيوادونو ته به ګواښ هم نه پيښ نه کړي او ترهګرو ته په افغانستان کې هم ځای نه ورکوي. طالبان دا هم ويلي دي، موږ به هيچا يا هيڅ کومي ډلي ته اجازه ورنه کړو، چې زموږ خاوره د نورو هيوادونو پر ضد وکاروي. طالبانو د اسلام باد له سياسي، پوځي مالي او لوجيستکي ملاتړ له خونديتوب څخه شه خوند اخيستي دی. که څه هم پاکستان په رسمي ډول د يوولسم د سپټمبره د ترهګرېزو بريدونو ورسته د ترهګرۍ ضد جګړه کې د امريکا متحده ايالاتو يو کلک ملګرى و.په اصل کې پاکستان نه د امريکا او نه هم د طالبانو د اعتبار وړ ملګرى دی، لکه څنګه چې په وار وار نيوکې هم پرې شوي دي. لوېديځ دولتونه ټول پوهيدلي، چې پاکستان  ټولو سره دوبل رول لوبوي. د طالبانو د بيا واکمنيدو سره پاکستان ځان ګټونکي محسوسوي. ځکه د دوی سرسخته دښمن هند په افغانستان کې هيڅ ډول اغيز نور لري. داسي ښکاري، چې د چين ترڅنګ پاکستان هم يقيناً د اوسني وضيعت ګټونکي وي. د افغانستان په کړکيچ کې پاکستان او ايران کليدي رول لوبوي. د طالبانو بريا يقينا د دوی لپاره يو لوی خطر هم دی. د طالبانو د بريا سره نه پاکستان او نه ايران په ارامه ټوګه خپله ډده لګولي شي. پاکستان دا خطر په سترګو ويني، چې اسلامپالي ډلي اوس په پاکستان کي ځواکمني شي او د ځواکمنتيا خورا لوړ اساس ومومي. ايران لړ تر لړه د ګاونډيتوب اړيکو تمه لري، د دغو دواړو ګاونډيو هيوادونو غبرګون به په سيمه کې لوی اغيز ولري. دلته د اټومي وسلو د خطرونو په اړه هم اندېښني شته، د امريکا د ملي امنيت پخواني سلاکار جان بولتين د جرمنی يوې ورځپاڼي ته د افغانستان ګاونديو هيوادونو د اټومي پروګرامونو ته به اشاره کې ويلي دي، چې په افغانستان کې د نوی اټومي خطرونو ګواښونه سبا يا په ديرشو ورځو کې نه رامنځ ته کيږي، خو په منځمعهاله موده کې خامخا را منځته کيږي. هغه بيا وايي، چې د افغانستان مسئله يوازې د افغانستان پورې اړه نه درلوده. په افغانستان کې د امريکا شتون تل د دواړو ګاونډيو هيوادونو د اټومي پرګرامونو په اړه مالومات راټول هم وه. د ۲۰۰۱ کال راهيسي د امريکا حکومت پوهيږي، چې طالبان هم له اټومي وسلو سره ليوالتيا لري.

د طالبانو بريا ته ګاونډي هيوادونه د کډوالۍ يوې نا حل شوي ستونزې په توګه هم ګوري. له هغې ورسته چې طالبان واک ته ورسيدل، د افغانستان ګاونډيان د کډوالو ورتګ بهير اندېښمن کړي. ايران او پاکستان له طالبانو سره ډيرې مختلفي اړيکي لري. په داسي حال کې چې ايران د دوه زرم کال د پيل راهيسي د طالبانو سني سختدريځي دلي په وړاندې د خپل دښمنانه دريځ سره سره پراګماتيک عمل هم کوي، خو پاکستان د طالبانو د لومړني واکمني او اوسنی واکمنی څخه په پټو سترګو ملاتړ کړي او کوي.

د طالبانو واکمنی د چين او پاکستان لويه بريا ګڼل کيږي. چين او پاکستان پوهيږي، چې طالبان د يو لړ سځتو ننګونو سره مخامخ دي، چين او پاکستان دواړو په هر ناوړه حالت کې د ستراتيجکي ملګرو په څير له يو بل سره همکاري کوي. څو د طالبانو په اړه يوه ګډه ستراتيجي جوړه کړي او طالبان دی ته محبوروي او هڅوي، خپلې کړي ژمنې عملي کړي، طالبان تر اوسه په يوه ټولشموله حکومت رامنځته کولو کې پاتي راغلي دي، د طالبانو حکومت تر اوسه پر ملي او نړيوال کچ په رسميت نه دی پيژندل شوي. طالبان تر اوسه د سيمه ييز امنيت او ثبات ساتلو او ودې لپاره کوم پلان يا تګلاره نه لري او په نړيواليو نورمونو ولاړ يو منځلاري کورنی او بهرنی سياست هم نه لري. د دوی حکومت نه ملي او نه تړيوال مشروعيت لري. کله چې طالبان په لومړي ځل را ښکاره شول، خلکو خوشالياني کولي، د افغانانو له پوره ملاتړه برخمن شول، نن هيڅوک خوشالي نه کوي، خلک ويره لري، خلک غواړي په ډله ييزه توګه له افغانستانه وتښتي. داسي ښکاري، چيناپان هم د طالبانو په لفظي بيانونو بې باوره شوي وي. چيناپان د طالبانو سره ډيرې نږدې اړيکي لري. د چين د بهرنيو چارو جګپوړي چارواکي په بيجينګ او دوحه کې د طالبانو پلاوي سره وکتل. طالبانو له چيناپانو سره ژمنې کړې، چې د خپلې واکمنې پرمهال به منځلارې سياستونه پالي کوي، خو چيناپان تر اوسه ډير لږ په طالبانو باندې باوري دي. چيناپان دا ويره لري، چې طالبان به اسلامي ترهګرو ته پټنځايونه ورکړي او د چين پر خاوره به بريدونه تر سره کړي، لکه د پاکستان په کراچۍ بندرې ښار کې پر چيناپانو بريدونه ترسره شوي، چې مسووليت پاکستاني


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

طالبانو په غاړه اخیستلي دی. د طالبانو واکمنیدو سره د پاکستاني پوځي جنرالاتو او د اي ایس اي مامورینو اوږد مهاله خوب ریښتیا شو. کله چې په کابل کې د طالبانو پاکستان پلوه حکومت واکمن شو. د طالبان بریا د سیمې هیوادونه یې له یو لړ ننګونو سره مخامخ کړي دي.

تولیزه پایله: امریکایانو په افغانستان کې لکه د ویتنام کې په څېر پوځی ماتې نه ده خوړلې، خو د دوحې تړون له مخې د سرتیرو وتلو پرېکړې د طالبانو بریا شونې او ګړندۍ کړه. افغانستان یرغلګرو لپاره یو مرداب یا لجن زار دی، چې هر څوک کولي ورغورځیدلي، خو ډیر لږ ترینه په خوندی او سالمه توګه راوتلي شي. د افغانستان په خونړۍ کړکیچ کې چې ځومره ګاونډی هیوادونه د لاسوهنې رول لري، هغومره د ستونزو د حلارې په برخه کې هم رول او اعبز لري. هیڅوک د پاکستان، ایران، هند، چین، روسېې او نورو ګاوندیو هیوادونو رول په پام کې نه نیولو پرته د افغانستان شخړه او کړکیچ په بشپړه توګه نشي درکولي. کله چې په افغانستان کې بېلا بېلې متفرقه ګټې او لیوالتیاوې کارول کیږي، بیا افغانستان د بهرنیو ځواکونو د لوبې ډګر ګرځیدل کیږي، لکه څنګه په تیرو وختونو کې څو ځله د بهرنیو ځواکونو د لوبو ډګر او د فوټبال ټوپ ګرځیدلي و. د طالبانو له واکمنۍ څخه تر دې دمه څه باندې دوه میاشتې تیریږي، طالبانو د خپل حکومت په رسمیت پیژندلو لپاره ډېرې هڅې ګړندۍ کړې دي. خو یوه دولت تر اوسه په ښکاره ډول په رسمیت نه دي پیژندلي. په حقیقت کې د طالبانو واکمې په رسمیت نه پیژندل یوازېنې لار ده، چې پر طالبانو سیاسي فشار راوړل شي، څو یو پراخ بنسټه ملي حکومت جوړ کړي. په ځانګړې توګه د بشري او د ښځو حقونو ته درناوی وکړي. په رسمیت نه پیژندلو کې د افغانستان دولت مطرح یا تر پوښتنې لاندې نه دی. د نړیوالو قوانین له مخې دولتونه د حکومت بدلون په صورت کې خپل شتون ته دوام ورکوي. حتی که واک د کودتا یا د اشغال له لارې بدل شوې هم وي. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پېنځو نړیوالو ځواکونو د طالبانو پر وړاندې د ګډ دریځ پرېکړه کړې ده. دوی د طالبانو څخه په افغانستان کې د ټولشموله حکومت، د سولې او ثبات ټېنګښت غوښتنه کړې ده. دا غوښتنې د نړۍ پېنځو زبرځواکونو د طالبانو مخې ته د مشروعیت لپاره ایښودلي دي. چین او روسیه هم په کې ګډون لري. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا پېنځو دایمي غړو د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې په څنډه کې د سختدریځو اسلامپالو طالبانو پر وړاندې د ګډ دریځ په اړه هوکړه کړې. د طالبانو د واکمنېدو ورسته متحده ایالاتو، بریتانیا، فرانسې، چین او روسیې په طالبانو غږ وکړ، څو یو داسي حکومت جوړ کړئ، چې په افغانستان کې د ټولو افغانانو استازیتوب وکړي. په داسي حال کې د طالب مشران په ډیره ناهیلې کې د نړۍ څخه د خپل حکومت په رسمیت پیژندلو تمه لري. لویدیځه نړۍ او د نړۍ زبرځواکونه غواړي، د افغانستان نوی رژیم په رسمیت نه پیژندلو له لارې د بشري حقونو درناوې او منلو ته اړ وباسي. دا دریځ د نړیوالو یو سېمبولیک سیاست دی. ځکه د لویدیځولو په سترګو کې طالبان یوازې یو بریالي پاڅونی غورځنګ نه دی. بلکې دوی القاعدې ته د نړدیوالي له امله او د یوه ترهګر سازمان په توګه پیژندل کیدو له امله دی. اروپایې ټولنه هم د طالبانو واکمنۍ ته د افغانستان د حکومت په سترګه نه ګوري. د افغانستان ملي پانګه هم له همدې امله کنګیل شوي ده. افغانستان ته د لویې لوبې بیرته ورستندلو سره بهرنې پردې ځواکونه هلته سیاست کوي، روسیه، چین او پاکستان هڅه کوي، څو په افغانستان کې ډیر سیاسي وزن ترلاسه کړي، د دوی دا سیاستونه په کابل کې افغان سیاسیونو ته سرخوږۍ هم جوړې دی. تېره اوونۍ روسیې، چین او پاکستان په دې هوکړه وکړه، چې د ملګرو ملتونو د بندیزونو له لیستې څخه د طالبانو استازي نومونه وباسي. روسیې د خپل ځانګړي استازي جګپوړي ډیپلومات په مشرۍ ضمیر کابلوف د ښو اړیکو او تجربو سره په کابل کې کینولي دی. هغه څو ځلې طالبان د خبرو اترو لپاره ماسکو ته ور بللي دي.د افغانستان خطرناکه ګاونډې هیوادونه د ویرې او پراګمیټېزم سیاست ترمنځ ولاړل دي. د طالبانو واکمنۍ د افغانستان ګاوندیو هیوادونه لپاره نوې ننګونې رامنځته کړي دي. د افغانستان خطرناکه ګاونډي د خپلو پوځونو سره د افغانستان په رسمي او نارسمي پولو کې د تیارسئ په حال کې ولاړ دي. پوښتنه دا ده، چې کوم ګاونډی هیواد به د طالبانو واکمني لومړۍ په رسمیت وپېژني ؟

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ